GOUVERNEMENT
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*

Délégation interministérielle
à l'accueil et à l'intégration
des réfugiés

# د کډوالو لپاره د معلوماتو لارښود

## د بانکي حساب پرانستل



# په لاربنود کې ځای په ځای شوې مطالب

## لنډیز


I. تاسو ولې یو بانکي حساب پرانستلو ته اړتیا لرئ

II. طرزالعملونه (د بانکي حساب پرانیستل او د بانکي حساب لرلو حق)

III. د بانکي اصطلاحاتو لغتونه

IV. ضمیمې (ګټور لینکونه او د رسمي لیک نمونه)


### موخه

په فرانسه کې د کډوالو لپاره د بانک اوسني یا جاري حساب ته لاسرسی د دوی د ادغام په پروسه کې یو بنسټیز ګام دی، ځکه چې دا دوی ته د کار بازار، دایمي کور او همدارنګه ټولنیزو حقونو ته لاسرسی ورکوي.

دا معلوماتي لاربنود تاسو ته معلومات او توضیحات درکوي چې څنګه په فرانسه کې د یوې ادارې پایوه بنسټ سره یو بانکي حساب خلاص کړئ او که چیرې ستاسو غوښتنه ونه منل شي، نو په هغه صورت کې تاسو څنګه کولای شئ چې د بانک دی فرانس (Banque de France) څخه د "حساب پرانستلو حق" غوښتنه وکړئ.

په همدې موخه، د معلوماتو دا لاربنود چې د خزانې عمومي ریاست (د اقتصاد، مالیې او بیارغونې وزارت)، د فرانسې بانک، په فرانسه کې د بهرنیانو عمومي ریاست (د کورنیو چارو وزارت)، د فرانسې مهاجرت او ادغام دفتر، او د کوالیا Coallia او ویلتاس Viltaïs سازمانونو په ګډه همکارۍ جوړ شوی دی.

په دې لاربنود کې اړوند معلومات راټول شوي، په ځانګړې توګه هغه مقررات او قوانین چې دمخه معلوم او پېژندل شوي د هغوی تشهیرول او عمومي کول او تر خلکو رسول دي.

ولې باید یو بانکي حساب پرانیزو

## ولې باید یو جارې بانکي حساب پرانیزو؟

دا حساب د جارې یا راکړې ورکړې (compte de dépôt) په نوم هم یادیږي، اوسنی یا جاري حساب تاسو ته اجازه درکوي چې **پیسې ترلاسه کړئ** (معاش، ټولنیز حقونه، او نور) او روزمره لګښتونو **تادیه کړئ**، لکه کرایه، مالیه، اوبو، بریښنا، ګاز، تلیفون، انټرنیټ لګښتونه، ټرانسپورټ کارت او داسې نور.

دا همدارنګه تاسو ته اجازه درکوي چې بانکي خدمات ترلاسه کړئ، کوم چې د بانکونو او سوداګریزو وړاندیزونو سره سم توپیر لري.

## د بانکي حساب په لرلو سره د پیسو راکړې ورکړې شته میتودونه

د بانکي حساب په پرانستلو سره د تادیې (د پیسو د راکړې ورکړې) ډیری میتودونه او لارې شتون لري، لکه، بانک کارت، د چک کتابچه، د پیسو په اتومات ډول اخیستل یا لیږد (ټرانسفر). یادونه، بانک مکلف ندي چې ټول خدمات تاسو ته درکړي.

د بانکي حساب له لارې تاسو کولی شئ نغدې پیسې د خپل بانک له څانګې یا ATM څخه په رایستلو سره په نغدو پیسو هم تادیه وکړئ.

## هغه لارې چارې (میتودونه) چې تاسو ته اجازه درکوي چې د خپل بانکي حساب بقایجات وګورئ

تاسو کولای شئ چې د بانکونو لخوا وړاندیز شویو انلاین اپلیکیشنونو له لارې چې ستاسو په کمپیوټر یا ګرځنده ټلیفونونو کې شتون لري، د خپل بانکي حساب بیان (معلوماتو) له لارې په اکونټ کې د شته پیسو اندازه وګورئ او معلومه کړئ.

**یادونه:**
د زیاتو پیسو له ایستلو څخه ډډه وکړئ (پداسې ډول چې په خپل حساب کې هیڅ پیسې پرینږدئ)، ځکه چې دا کار کیدای شي د پام وړ بانکي لګښتونو لامل شي.
دا ستاسو د چکونو د باطلیدو لامل هم کیدی شي. چک سان پرویزیون "chèque sans provision" (دا هغه چک ته واي چې کله یو څوک یې بانک ته ورکړي او په بانکي حساب کې کافي پیسي ونه لري) **دا کار کیدای شي ستاسو د بانکي خدماتو د بندیدو سبب وګرځي.**

# د بانکي حساب پرانستل

پروسیجر

## د یو بانکي حساب پرانستلو لپاره څه باید وکړو؟

### 1. د بانک یوې څانګې ته مراجعه وکړئ

د بانکي حساب پرانیستلو لپاره، تاسو کولی شئ د خپلې خوښې بانک ته لاړ شئ. هلته تاسو کولی شئ د ریسپشن څخه د **حساب پرانیستلو فرمې** غوښتنه وکړئ، ترڅو د بانکي حساب لپاره دوسیه بشپړه کړئ او حساب پرانیستلو غوښتنه وکړئ.

ځیني بانکونه تاسو ته وړاندیز کوي چې د بانکي حساب پرانستلو لپاره خپله غوښتنه په انلاین بڼه د انټرنیټ له لارې وکړئ.

### 2. خپله دوسیه بشپړول او وړاندې کول

- په دوسیه کې لاندې اسناد شامل وي:
- د بانک له لوري چمتو شوی د **حساب پرانیستلو غوښتنلیک**؛
- د بانکي حساب لپاره **د غوښتنې لیک.** دا د حساب خلاصولو غوښتنه رسمي کوي او باید ستاسو لاسلیک پکې شامل وي؛
- **د عکس سره د رسمي هویت سند چې د اعتبار وړ وي.**

### 3. بانک کولای شي له تاسو څخه اضافي معلومات وغواړي

ستاسو د هویت اسنادو د تصدیق کولو سربیره، بانک باید همدارنګه د قانون لمخې د حساب پرانیستلو غوښتنې موخه هم تصدیق کړي، د بیلګې په توګه تاسو به د بانکي حساب څخه څه ډول استفاده کوی (شخصي استفاده، مسلکي، او داسې نور).
دا ممکن ده چې بانک له تاسو څخه ستاسو د عاید یا سرچینو ثبوت وغواړي (د کارکولو تړون، د معاشاتو رسیدونه، اوداسې نور)

د اداري چارو لمخې، دا ممکن ده چې بانک له تاسو څخه د پتې ثبوت چمتو کولوغوښتنه هم وکړي.

<u>یادونه :</u>

- ***بانک کولی شي تاسو ته د مختلفو فورمولونو (انتخابونو) وړاندیز وکړي، کوم چې ممکن د تادیې وړ وي.***
- *دا ستاسو په غوره شوي فورمولی یا انتخاب پورې اړه لري، تاسو ته به د بانکي حساب پرانستلو اجازه درکړل شي اویا هم درنکړای شي، دا تاسو د خپل حساب له لارې معلوموﻻی شئ*

# د یوه بانکي حساب لرلو حق ترلاسه کولولپاره څه باید وکړو؟ (1/2)

یو بانک ممکن تاسو ته د یوه بانکي حساب پرانستلو څخه انکار وکړي. په هغه صورت کې تاسو کولی شئ د بانک دی فرانس ( Banque de France) سره اړیکه ونیسئ ترڅو په وړیا توګه **د یوه بانکي حساب لرلو د حق ترلاسه کولو طرزالعمل څخه ګټه پورته کړئ.**

په حقیقت کې هر هغه څوک چې په فرانسه کې ژوند کوي او یو بانکي حساب و نه لري، په داسي حال کې چې د یو بانک لخوا د حساب پرانیستلو څخه انکار ورته وشي، هغه حق لري چې **د بانک دی فرانس (Banque de France) څخه وغواړي چې د اړونده بانک اداري ته حکم وکړي** چې نوموړي کس ته یو بانکي حساب پرانیزي او همدارنګه ټول وړیا اساسي د بانکداری خدمات چې له بانکي حساب سره تړاو لري ورکړي.

### 1. د بانکي حساب پرانستلو رد کیدل توجیه کړئ

**ستاسو د غوښتني ثبتولو څخه ورسته که د 15 ورځو په موده کې د اړونده بانک لخو ځواب ترلاسه نکړئ، نو دا پخپله د غوښتني ردکیدو په معنی ده،** او دا کار تاسو ته اجازه درکوي چې پرته له کوم لیکلي ثبوب څخه د بانک دی فرانس ( la Banque de France) سره اړیکه ونیسئ.

### 2. خپله دوسیه بشپړه کړئ

ستاسو دوسیه باید لاندې اسناد ولري:

- **ستاسو د بانکي حساب پرانستلو غوښتني ثبوت** چې له 15 ورځو څخه مخکني نیټه او وخت په نښه کوي (د راجستر شوي پوست له لارې د پوست لیږلو رسید یا په شخصي ډول د غوښتنلیک سپارلو ثبوت لرل)
- **د بانکي حساب د حق لرلو فورمه**، دا فورمه تاسو د بانک دی فرانس ویب پاڼې (de la Banque de France) څخه ډاونلوډ کولای شئ
- **د هویت معتبر ثبوت** (د استوګني جواز (تتخ دی سیجور)، یا د اوسیدني موقتي تمدید کیدونکی سند، یا د مثبتي پریکړي سند)
- **د پتې ثبوت** (د مثال په توګه، د اوبو یا تلیفون بل چې د 3 میاشتو څخه کمي مودې وي، د کرایې رسید چې د 3 میاشتو څخه کمي مودې وي، د ملکیت سند، د استوګني سند)

### 3. خپله غوښتنه بانکي دی فرانس ته وسپارئ

- د پوست له لارې پته: بانک دی فرانس La Banque de France
  TSA 50120
  75 035 PARIS CEDEX 01 75 03501

- د بانک په دفترونو کې په مستقیمه توګه د دوسي تسلیمولو لپاره: د وخت اخیستو لپاره کولای شئ د بانک دی فرانس ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ: https://accueil.banque-france.fr
- د بانک دی فرانس ویب پاڼې له لارې په انلاین بڼه: https://accueil.banque-france.fr
- د تلیفون له لارې: د 3414 شمیرې ته د تلیفون کولو له لارې د ملاقات وخت اخیستلای شئ

# د یوه بانکي حساب لرلو حق ترلاسه کولولپاره څه باید وکړو؟ (2/2)

### 4. د بانک دی فرانس ځواب ته انتظار وکړئ

که چیرې تاسو خپله دوسیه له ټولو اړینو اسنادو سره سپارلي يي، بانک دی فرانس د یوې کاري ورځې په اوږدو کې د حساب پرانیستلو لپاره یو بانک ټاکي.

کله چې اړونده بانک ته خبر ورکړل شي، نوموړی بانک باید د بانکي حساب غوښتونکي شخص څخه د اعظمي 3 ورځو په موده کې د اړینو اسنادو لیست او همدارنګه د تماس کس یا یوه مسوول کس د اړیکو په اړه معلومات ورکړي.

نومول شوی بانک د قانون له مخې او د بانکي حساب د حق د قانون لمخې مکلفیت لري چې ستاسو د هویت په اړه پلټنه وکړي او د بانکي حساب پرانستلو هدف په اړه معلومات راټول کړي. له دې امله دا ممکنه ده چې نوموړی بانک د هغو اسنادو پرته د نورو اسنادو غوښتنه هم له تاسو څخه وکړي چې بانک دی فرانس (la Banque de France) ته سپارل شوي.

که تاسو غوښتل شوي اسناد چمتو نه کړئ، بانک ممکن د حساب پرانستلو څخه انکار وکړي.

کله چې ستاسو دوسیه بشپړه شي، نوموړی بانک باید ستاسو بانکي حساب د 3 ورځو په موده کې پرانیزي.

# د بانکي حساب د حق لرلو سره تړلي اساسي بانکي خدمتونه؟ (D312-5 et D312-6 CMF)

د بانکي حساب حق ته د لاس رسي په چوکاټ کې د پروسیجر لمخې تاسو ته لاندې خدمتونه په **وړیا** توګه چمتو کیږي:

- د حساب پرانیستل، ساتنه او تړل؛
- په کال کې د پتې یو ځل بدلون؛
- د غوښتنې پر اساس د خپل بانکي حساب د معلومات ترلاسه کول؛
- د بانکي حساب څخه په مستقیمه توګه د پیسو د لیږد مصارف ګرځول؛
- په حساب کې د ترسره شویو معاملو اړوند د معلوماتو میاشتنی راپور؛
- د چکونو نغدول او د بانک له لارې د پیسو لیږد؛
- د خپل حساب له لارې په اتومات ډول دپیسو ورکول (SEPA)،د بانکونو ترمنځ د پیسو د تبادلې خدمات (SEPA) یا د بانک له لارې د پیسو د لیږد خدمات، دغه وروستي خدمات د بانک دفتر کې یا د خپل کور څخه ترسره کیدای شي؛
- د بانکي حساب د حساب کتاب په اړه له کور څخه د معلوماتو او تعقیبولو وسایلو چمتوکول؛
- په بانک کې یا اې ټي ایم (ATM) ماشینونو له لارې د نغدو پیسو زیرمه کول او ایستلو خدمات؛
- د تادیې کارت په ځانګړي توګه د انټرنیټ له لارې د راکړې ورکړې خدمات او داچې بانکي کارت په اروپایی اتحادیه کې د نغدو پیسو ایستلو اجازه ولري
- په میاشت کې د بانکي چکونو دوه فورمولونه یا د ورته خدماتو وړاندې کولو د تادیې مساوي وسیله؛
- د نغدو معاملو ترسره کول.

په دې خدماتو کې په حساب کې د شته پیسو څخه د زیاتو پیسو ایستل یا معامله کولو اجازه یا د چک کتابچه شامل نه دي.

# د بېلابېلو پروسیجرونو پرمهال د غوښتل شویو ځینو اسنادو باندې تمرکز

### د هویت سند یا کارت La pièce d'identité

بانک ته د خپل هویت د ثابتولو لپاره تاسو کولای شئ د خپل وضعیت په پام کي نیولو سره لاندې اسناد وړاندې کړئ:

ستاسود اوسیدني تمدید شوی سند، یا د مثبتي پریکړې پریکړې سند

یا

- ستاسو د استوګني (تتخ دی سیجور) معتبر جواز چې صلاحیت ولري

### د استوګني د پتې ثبوت Le justificatif de domicile

د **بانکي حساب د پرانستلو لپاره د پتې ثبوت لازمي نه دی**، د بیلګې په توګه، بانک هیڅ قانوني مکلفیت نلري چې ستاسو د حساب پرانیستلو دمخه ستاسو پته تایید کړي. نو بانک نشي کولای یوازې د پتې ثبوت نه درلودلو د دلیل له کبله ستاسو د حساب خلاصولو څخه انکار وکړي.

په هرصورت، بانک ممکن له تاسو څخه وغواړي چې د حساب پرانیستلو وروسته د خپل کور د پتې ثبوت ورته ورکړئ، دا ستاسو د حساب د چارو د اسانتیا او مدیریت اړوند عملي دلایلو په موخه غوښتل کیږي، د بیلګې په توګه تاسو ته د معلوماتو راپورونو لیږلو، یا ستاسو د حساب اړوند بیاناتو لیږلو لپاره کارول کیږي.

## ضمایم

د بانکي اصطلاحاتو لغتونه

ګټورې اړیکې

د رسمي لیک نمونه (د حساب پرانستلو غوښتنه)

# د بانکي اصطلاحاتو لغتونو مجموعه

تاسو به لاندې د فرانسي بانکدارۍ فدراسیون (la Fédération Française Bancaire) د قاموس څخه د خلاصه شویو لغتونو مجموعه ومومئ چې په بشپړ ډول د FBF په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ دي (site de la FBF).

"کیس " (caisse) اصطلاحګاني هم کارول کیږي.

**بانک دی فرانس Banque de France**

ملي مرکزي بانک دی چې دنده یې د اروپا مرکزي بانک سره په ګډه د تادیاتو سیستمونو مناسب فعالیت او امنیت تضمین کول دي. دا بنسټ همدارنګه د پیسو د چاپ او صادرولو دنده هم پرغاړه لري. دا د کریډیټ یا مالي قرضونو بنسټونو مالي تمول هم کوي.

## C

**د بانک کارت Carte bancaire**

د تادیې یا د پیسو د راکړې ورکړې وسیله یا کارت دی چې د کریډیټ یا بانک د یو بنسټ لخوا صادریږي او د کارت خاوند ته د اړوند بانک سره د کړې ترونډ سره سم اجازه ورکوي چې له دې لارې مالي چارې په مخ یوسي، لکه د پیسو راکړه ورکړه او یا د پیسو ایستل له خپل حساب نه ترسره کړي. لاندې اړونده خدمات ممکن له بانکي کارت سره تړاو ولري، لکه (بیمه، مرستې، او داسې نور).

**کریډټ کارت Carte de crédit**

د تادیې کارت د کارت لرونکی ته اجازه ورکوي چې د پیرود لپاره ددې کارت له لارې تادیه وکړي او یا د مخکې له مخکې ټاکل شوي او قرارداد له لارې تعریف شوي مقدار پیسې وباسي.

## A

**اژانس Agence**

د یو بانک دفتر یا هغه ځای چیرې چې بانک د مشتریانو هرکلی کوي

**اجیوس Agios**

د بانک لخوا راټول شوې د ډیبیټ فایده، په عمومي ډول کله چې حساب منفي یا اضافي پیسې اخیستل شوې وي، د پیسو د مجموعې مقدار،مودې او سود نرخ سره سم محاسبه کیږي او دې ته لګښتونه او کمیشنونه هم وراضافه کیږي.

**Autorisation de découvert**

**د بانک لخوا دیو ټاکل مقدار پیسو اخیستو اجازت**

د بانک لخوا ورکړل شوې اجازه چې د مخکې له مخکې توافق شویو شرایطو سره سم داعظمي مقدار ټاکل چې اخیستونکی ورڅخه ګټه پورته کوي چې بیرته باید تادیه شي، په ځانګړې توګه د زیرمو بانکي حساب تړون لرونکو یا د یوه تړون سره.

## B

**بانک Banque**

بانک هغه بنسټ ته وایې چې د قانون لمخې ورته ددې اجازه یا واک ورکړ شوی وي چې د مالي راکړې ورکړې ترسره کولو واک ولري. دا پدې معنی ده چې د خلکو څخه د پیسو ترلاسه کول، د کریډیټ راکړه ورکړه، او همدارنګه د پیرودونکو لپاره د خدماتو برابرول یا د تادیې خدماتو او وسایلو اداره کول پرغاړه ولري. دغه بنسټ ته "د کریډیټ اداره " (établissement de crédit) یا

### چک Chèque

د تاديې يوه سټنډرډه وسيله ده چې له دې لارې د حساب لرونکی (رايستونکی) خپل بانکدار (ورکونکی) ته امر کوي چې د چک څخه ګټه اخيستونکي ته هغه مقدار پيسي ورکړي چې په چک کې ذکر شوي. کله چې چک ليکل کيږي بايد د چک ورکونکي په بانکي حساب کې په کافي اندازه پيسي ولري ترهغه وخته چې په چک کې ذکر شوې اندازه پيسي ورکول کيږی.

## D

### اسعار Devise

بهرني اسعار

## E

### نغدي پيسي يا نوټونه Espèces

دا کلمه د بانکي نوټونو او د نغدو پيسو د سکي لپاره استفاده کيږي.

## F

### انوائس يا فاکتور Facture

انوائس يا رسيد د محاسبي سند دی چې پلورونکی يې د پلورل شوي توکو يا خدماتو د ارزښت په بدل کې له پيرودونکي څخه د تاديې غوښتنه کوي. په انوائس يا رسيد کې ډير معلومات ورکول کيږي لکه د توکو په اړه توضيحات، قيمت او داسې نور. دا هغه رسيد دی چې تادياتو يا عايداتو د مالياتو محاسبي کولو لپاره کارول کيږي.

### د بانک لګښتونه Frais bancaires

د بانک لګښتونه د پيرودونکي لخوا د راکړې ورکړې ترسره کولو، د محصول عرضه کولو يا خدماتو چمتو کولو لپاره تاديه شوي نرخونه څرګندوي. دا کيدای شي د بانکي حساب يا تادياتو د راکړې ورکړې په عملياتو کې د بې نظميو سره هم تړاو ولري.

## I

### منع شوي بانکداري Interdit bancaire

هغه څوک چې له ناکافي اندازې فنډ لرلو يا په خپل حساب کې ناکافي مقدار پيسو سره چک صادر کړی (غير قانوني) او ددې کار په نتيجه کې بيا نوموړی شخص نور ددې حق نلري چې چک صادر کړي.

## O

### اعتراض يا شکايت Opposition

هغه بانکي عمليات يا راکړه ورکړه چې د تليفون يا ليک له لارې د چک يا بانکي کارت د ورکيدو يا غلا په اړه راپور ورکول شامل دي ترڅو د درغليو څخه مخنيوی وشي. تاسو کولای شئ په ځينو ځانګړو حالاتو کو اعتراض يا شکايت وکړئ، لکه د کارت د ورکيدو، غلا کيدو، درغلی کيدل او د پيسو ضايع کيدل يا بنديدل يا د قضايي قضيو په اړه چې د مالي چارو اړوند وي. که ستاسو شکايت يا اعتراض د توجيه وړ نه وي، ممکن تاسو د جنايي جزا او  قانوني اجراآتو سره مخ شئ.

## R

### د بانکي حساب راپور Relevé de compte

هغه سند ته واي چې د يوې ټاکلې مودې په جريان کې د پيرودونکي د بانکي حساب  له لارې چې څومره مالي رکاړه ورکړه ترسره شوي او ثبت شوي وي يو لنډيز وړاندې کوي. معمولا په مياشتني ډول صادريږي. دا سپارښتنه کيږي چې خپل مياشتني د بانکي حساب معلوماتو راپورونه د 10 کلونو لپاره وساتئ.

## V

### د بانکي حساب له لارې د پيسو ليږد Virement

دا هغه فعاليت يا عمل ته واي چې په واسطه يې يو پيرودونکی خپل بانک ته امر کوي چې ستاسو حساب ډيبيټ کړي يا بل کس ته پيسي وليږي او له دې لارې بل کس يا حساب ته پيسی ورشي، کريډټ شي. دا کيدای شي کله ناکله يا دايمي وي.

# ګټورې اړیکې Liens utiles

**د استوګنځای د ثبوت لپاره د عامه خدماتو ویب سایټ :**

https://www.service-public.fr/simulateur/calcul/AttestationHebergement

بانکي حساب ته د حق یا لاس رسي پروسیجر :

www.banque-france.fr (د افرادو/مالي شمولیت برخه)

**تاسو ته نږدې د بانک دی فرانس دفتر موندلو لپاره:**

https://www.banque-france.fr/la-banque-de-france/nous-connaitre/implantations-de-la-banque

**د ریفوجي.انفو (Réfugiés.info) پلیټ فارم، د مهاجرینو لپاره د طرزالعملونو، کړنو او د هرکلي او ادغام د امکاناتو د برنامو په اړه واضح او ژباړل شوي معلومات چمتو کوي چې د دوی لپاره مشخص شوي دي:**

https://www.refugies.info/

NOM et prénom(s) تخلص او نوم

Adresse پته

Numéro de téléphone د تلیفون شمیره

Numéro de compte د حساب شمیره

Nom de la banque د بانک نوم

Adresse de l'agence د اژانس پته

A, lieu le, date ځای او نیټه

**Objet** : Demande d'ouverture d'un compte courant

Madame, Monsieur,

Je vous prie de bien vouloir ouvrir un compte au nom de de Madame / Monsieur Prénom NOM

Vous trouverez ci-joint les documents nécessaires dont le formulaire d'ouverture de compte.

Dans l'attente d'une réponse de votre part, je vous prie d'agréer, Madame, Monsieur, l'expression de mes salutations distinguées.

**موضوع:** د بانکي حساب پرانیستلو لپاره غوښتنلیک

ښاغلی، ښاغلي،

زه له تاسو څخه په ډیر درنښت غوښتنه کوم چې مهرباني وکړئ یو بانکي حساب د آغلي /آغلی نوم تخلص په نوم پرانیزی.

تاسو به د ددې غوښتنلیک سره یوځای د حساب پرانیستلو فورمې په ګډون اړین اسناد ومومئ.

ستاسو د ځواب په انتظار.

په درنښت

Signature لاسلیک